(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خپله څېړنه ولیکله او بیا یې خپلې لیکنې ته د لارورکي ایلچي (*Nuncius Siderius*) نوم یې ورکړ. لا خو هغه پروا نه لرله چي د دۀ د څېړنې به په کلیسا باندي څه اغېزه وشي؛ هغه یوازي د خپلو پخوانو همکارۀ ښوونکو څخه وېره لرله. همداسي وشول. د پوهنې په ډګر کښې د هغه همکارۀ ښوونکو ته چي کله د هغه څېړنه وروراسېدله نو خوار ټوکې ټکالې یې ورپوري وکولې. کله چي هغۀ دوی راوغوښتل چي پخپله د دۀ په لرکسي کښې وګوري. نۀ ځینه یې رانۀ غلل. او کوم چي راغلل په هغو کښې ځینو ویل چي په لرکسي کښې خو یې هیڅ هم ونۀ لیدل او نۀرۀ بیا د هغۀ لرکسی تشه د ماشومانۀ یوه نانزکه وبلله.

کله چي د ګالیلیۀ له خپلو همکارانۀ سره په نانډریۀ اخته ۀ نۀ کلیسا بېخي کار نۀ پکښې لرلۀ. او ګالیلیۀ هم د وېنس د سیمې د سرکار تر سۀري لاندي ژوند کولۀ، چي هر وخت به یې کلیسا ته دړکې ورکولې چي د اینګلستان په شان به ټۀلې شاندې او وندنې (Relations) له کلیسا سره غوڅې کې. په کال ۱۲۱۰ کښې هغۀ ته بلنه ورکړ شوه چي په خپل پلارني ټیسکۀني کښې د ګټتري په ځانګې کښې د لوی ډېوک کۀسیمۀ مشر ښۀونکی شي. د هغۀ نوې دندې او چوکۍ هغۀ ته خورا ډېر وخت په لاس ورکړۀ چي خپله څېړنه نۀره هم مخ ته بوځي. اوس نۀ هغۀ خورا ستر نیامت او هۀډ لرلۀ چي رۀم ته به ځي او هلته به پاپا ته د خپلې څېړنې د ریښتینولۍ په باره کښې وایي او کلیسا به د همېشه لپاره د ارستۀ او پټولمي له غلامۍ ازادوي. مګر دا یو لېونتۀب ۀ چي ټۀل ژوند د ګالیلیۀ په سر کښې پاته ۀ.

هغه رۀم ته د دې لپاره روان ۀ چي په مسبهي ګرۀهې ته ګټه ورسوي نۀ دا چي ډغره ورسره ووهي. ګالیلیۀ له خورا سترۀ هیلۀ سره رۀم ته روان شۀ چي د خپل لرکسي موندنې هلته ډاګیزې کې. په لومړي سر کښې هلته د دۀ د څېړنۀ خورا تۀد هرکلی وشۀ او هیچا یې موندنې ناسمې ونۀ بللې او د یوۀ لوی اتل په سترګه به ورته کتل کېدل. دا د ګالیلیۀ لپاره یو ستر بری ۀ. هغۀ اوس اوه څلوېښت کلن شوی ۀ کله چي یې د خپلې څېړنې بریا ولیدله نۀ لوی یې ولګېدلۀ او بېرت فلورېنس ته راستون شۀ. هغۀ هلته په بابا کالویس او د واټیکن په نۀرۀ ستورپۀهانۀ باندي منلې وه چي نۀر نۀ د ارستۀ سۀچ سم نۀ دی او پکار ده چي دوی ورپسې ولاړ نۀ شي. که څه هم دوی دې ته هم تیار نۀ ول چي په کوپرنیکس پسې ولاړ شي مګر کم ترکمه دا یې ومنله چي هسک نۀر پټۀني (رازونه) هم لري نۀ یوازي هغه ځینه چي دوی تر اوسه ورسره بلد شوي ول. دوی په دې پوه شول چي د وېنس بېلابېل پړوانه په غوڅه تۀګه دا زباتوي چي دغه ستوری په لمر شاوخوا ګرځي راګرځي. اوس دومره پاته وه چي کلیسا دا هم ومني چي پخپله مځکه هم په لمر شاوخوا ګرځي. مګر داسي ونۀ شول. کله چي هغۀ له رۀمه بریالی راستون شۀ اته میاشتې لا نۀ وې تېرې شوې چي له هغه څخه ګروېږنې پیل شوې. او د همدې ګروېږندې له لاسه یې پاته دېرش کاله په کوفرویلۀ د تۀرونۀ تر تۀر سۀري لاندي تېر کړۀ.

دا نابېره څه داسي بد کار وشۀ چي دا ناورین پیل شۀ؟ دا یوازي د ساینس او کلیسا ډغره نۀ وه بلکې د ځینۀ کسانۀ د رخې، چلوټۀ، ناپوهۍ، سرټمبه تۀب او وېرې له لاسه ګالیلیۀ ټۀل ژوند خوارځار او اوتر اوتر شۀ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو څۀ روځې وروسته کارډينل بېلارماين وګومار شۀ چې ګاليليۀ ته ووايي چې نۀر دي نۀ له دغۀ کارونۀ ودرېږي. دغه کيسه په دوۀ ډولونۀ تر مونږ پوري رارسېدلې ده. ځينه کسان وايي چې ګاليليۀ ورسره و منله چې نۀر به نۀ د کوپرنيکس د کسنۀ ننګه نۀ کوي. او ځينه نۀر بيا وايي چې هغۀ و منل چې نۀر به له دغې بنديز شوې کسنې څخه ببخي لاس اخلي او نۀ به خپلوي، نۀ به يې ننګه کوي او نۀ به يې چا ته ښۀونه کوي.

دا ګړې خو ګاليليۀ په يوۀ نۀ يوۀ ډول يوه بريا ګټلې وه. هغۀ له هر ډول سزا او ترټلۀ ازاد شوی ۀ، له هغۀ سره پخپله پاپا مخامخ رغبدلی ۀ چا چې د پرلپسې درناوي ډاډ هم ورکړی ۀ او بله دا چې کومه فتوا چې د کليساګانۀ له ميمبرونۀ واورول شوه په هغې کې بس مازي دومره ويل شوي ول چې د د کوپرنيکس د کسنې د ريښتينولۍ په زباتولۀ به بنديز وي. مګر هغه بيا هم د ګڼترې (رياضي) لپاره کارول کېدلای شوه. يوازي د هغې په «ريښتينولۍِ» باندي بنديز ولګول شۀ.

هغۀ اۀوه کاله هيڅ هم خپاره نۀ کړل. خو له هغه وروسته په کال ۱۶۲۳ کښې يې *Il* (*Saggiatore*) وليکلۀ. په دغه لوستني کښې د پټولمي او کوپرنيکس د ملاتړيو ترمنځ ګايونه يا ډيالۀګ ۀ. هغۀ په دې باندي اۀوه کاله نۀر هم کار وکولۀ. مګر په دېر ترڅ کښې يو څو پېښې وشوې. لومړی لوی ډېوک کوسمينۀ په نابېره تۀګه مړ شۀ او دی يې له سوري څخه ببېرخې شۀ. او تر دې بده لا دا وه چې په ځای ناستې يې هغۀ زړه رانۍ چې په لومړي سر کښې يې ټولې نانډرۍ او مرښې راپورته کړې وې. په رۀم کښې پاپا پۀل پينځم هم مړ شۀ او په ځای يې ګريګوري پينځلسم کښېناستلۀ څوک چې يو کمزوری او ډېر زۀړ کس او بس دوه کاله په واک کښې پاته شۀ. بيا د هغۀ په ځای باندي کارډينال مافيو باربيريني کښېناستلۀ چې وروسته يې د اربن - پينځه دېرشم نوم غوره کړۀ. هغۀ ډېر د برم او نوم وړی کس ۀ. هغۀ لېوال ۀ چې له ګاليليۀ سره ليده کاتۀ وکوي.

ګاليليۀ هم چې روغتيا يې لږ ښه شوه ورته راغلۀ او شپږ ځله يې اوږدې ليدنې ورسره وکولې. په دغۀ دوۀ په دوۀ ليدنۀ کښې ګاليليۀ هڅه وکوله چې نوی پاپا د کوپرنيکس د کسنې په ريښتينولۍ پوه کي او سځ (قانع) يې هم کي. که څه هم نوي پاپا تر ډېره بريده له ګاليليۀ سره سر ښۀرولۀ مګر دې ته تيار نۀ ۀ چې د کسنې ريښتيونولي ببخي په ډاګه ومني او يا دي بنديز ورڅخه لري کي. کله کله به يې دا هم ورته وويل چې «سپېځلې کليسا کوپرنيکس غندلی نۀ دی او نه يې د هغۀ کسنه کوفرغرونه بللې ده، بس مازي دومره وايي چې هغه يو ډول بېره کړې ده او دا چې ببځايه يې خبز وهلی دي. که چيري يو څوک د هغې ريښتينولي زباتولای شي نۀ بيا به هغه ببځايه خبز نۀ بلل کيږي» په ځان باوري او ډاډه ګاليليۀ داسي و انګېرله چې نۀر نۀ هغه د کوپرنيکس په کسنې باندې څه ناڅه ليکلای شي تر څو چې په دينپوهنې کښې لاسوهنه نۀ کوي او همېشه له خپلۀ څېړنۀ سره کار ولري او بس.

